وهمچنان شمارا امت وسطی ساختیم تابرمردم گواه باشید وپیامبر صلی الله علیه وسلم برشما گواه باشد

(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شماره (مسلسل) ٦٦٣ سال شانزدهم شماره (٥١) یکشنبه ۳ اسد ۱۳۷۲ هـ ش (٦) صفر ١٤١٤ هـ ،ق ۲۵ جولاي ۱۹۹۳ م

بیه: یوه روپی یا ٥٠٠ افغانی

دخوست ولایتي شوادخوست په مرکزکي ګڼ شمیرغیرقانوني ودانۍ ونړولي

خوست - دزمري ۲ مه :

دخوست ولایت څخه رارسیدلي خبرونه وایي چي دنوموړي ولایت ولایتي شورادروان کال دچنګاښ دمیاشتي په ۳۱ مه نیټه یوه درنده غونډه جوړه کړه پدي غونډه کي چي دخوست په ولایتي شوراسربیره دبیلابیلو قومونو مشرانو علماوو اوسپین ږیرو برخه درلود. دقرآن عظیم الشان دځومیارکوآیاتونویه تلاوت پیل شوه .

دغونډي په پیل کي دشوراغړو اوقومي مشرانویه بیلابیلو مسئلوخبري وکړي اوپه آخرکي ئي لاندي دپام وړکارونه ترسره کړل .

۱- هغه ځوک چي بیله کوم سندڅخه دشورادغړي په توګه وسله له ځانه سره ګرځوي هغي ته به قانوني سزاورکول کیږي .

۲- دلاري په اوږدوکي ئي دوسلوټولولوپاټکونه تعین کړل چي دوسلوالوکسانوڅخه به هلته وسله

٤ مخ

نیروهاي ارمني به شهرمهم آقدان درقره باغ علیاواردشدند

باکو - اول اسد :

رادیوبي بي سي به نقل ازوزارت دفاع آذربایجان گزارش مي دهدکه نیروهاي ارمني به شهرمهم واستراتیژیك آقدان درقره باغ علیاواردشده اند.

وزارت دفاع آذربایجان گفته است: نیروهاي ارمني نخستین باربه روزپنجشنبه واردان شهرشدند امابامقاومت نیروهاي آذري مجبوربه عقب نشیني گردیدند . به گفته وزارت دفاع نیروهاي ارمني صبحگاهان روزجمعه باردیگر دست به حمله زدند که منتج به برخورد هایي شدیدي درشهرشد. وزارت دفاع آذربایجان مي گوید: نبرد هم چنان ادامه دارد ارتباط شهرباخارج قطع شده است . گفته شده است که شهرآقدان داراي چهل هزارنفر نفوس است .

دهیوادمحترم صدراعظم وروړحکمتیاردصدارت دموقت دفتر په جامع جومات کي د جمعي له لمانځه نه مخکي :

په هیڅ بیه به پښتل ولس باندي دزر،زوراوتزویر حکومتونه ونه منو

روسان موږيدي تهدیدوي ،چي دکمونیست رژیم دزورزیاتي لامله مهاجرشوو تاجکانو ته پناه ورنکړو

موږ به دښپل هیواددګټو اوسولي دراتلونکي له هیڅ ډول قرباني ځخه ډډه ونکړو

دهیواد صدراعظم اودحزب اسلامي مجاهد امیر محترم ورور حکمتیار ورمه ورځ دجمعي دلمانځه په لومړي خطبه کي لمونځ کونکو ته دوینا په ترڅ کي وویل زمونږ په سرحداتو دروسانو تیري په داسي حال کي ترسره کیږي چي دمجاهدینو ترمنځ یو لړ توافقات رامنځ ته شوي او دهمدي توافقاتو په نتیجه کي یوګډ حکومت تشکیل شوي دي.

ده وویل ، دااوضاع ښیي چي دابوازي دروسانو پلان ندي بلکه دنورو ځواکونو او لویو لاسونه هم پکي دي.

دپیام آزادي راډیو خبریال خبراکوي چي ورمه ورځ دجمعي لمونځ دعظمي صدارت دموقت دفتر په جامع جومات کي په داسي حال کي چي ګڼ شمیر مجاهدینو ، دحزب اسلامي افغانستان دځینو ادارو مامورینو اومنسوبینو اودچارآسیاب ولسوالي یوشمیر شریفو خلکو پکي ګډون درلود دورورحکمتیاربه امامت اداشو.

خبریال لیکي چي دهیواد صدراعظم وروړحکمتیار دجمعي دلمانځه په لومړي خطبه کي

۸ مخ

تعدادي ازقوماندانان جهادي ولسوالي هاي سبزپارسا وغوربند بابرادرحکمتیارصدراعظم کشورملاقات نمودند

کابل - اول اسد :

خبرنگاررادیوپیام آزادي به نقل ازیك منبع دفترموقت صدارت عظمي به ادارهٔ شهادت گزارش میدهدکه تعدادي ازقوماندانان جهادي ولسوالي هاي سبزپارساوغوربند مربوط حزب اسلامي وحزب وحدت اسلامي به روزپنجشنبه بابرادرحکمتیارصدراعظم دولت اسلامي افغانستان درمقردفترموقت صدارت عظمی ملاقات وگفتگونمودند .

طبق گزارش درین دیدارقوماندان استادعبدالواحد، گل آقا"جوشان" وحاجي حیات الله ازحزب اسلامي ومحترم آغاي هادي ازحزب وحدت اسلامي باجمعي ازقوماندانان دیگر نخست آغازکارکابینه دولت اسلامي رابه محترم صدراعظم کشورتبریك گفته، بعداً درموردمشکلات جاري منطقه وفعال نمودن تشکیلات ولسوالي هابابرادرحکمتیاربحث تفصیلي نمودند. وهم چنان قرماندانان موصوف به نمایندگي ازمناطق شان به دولت اسلامي افغانستان وعده هرگونه همکاري دادند .

بعداً محترم حکمتیاربالنوبه ازاظهارات نیك آنهاتمجیدکرده موضوعات پیشنهادي شانرامنظورنمودند .

په کابل کي دسختوسیلابونوله امله ٤٠ کورونه ونړیدل

کابل - دزمري ۲ :

دکابل ښارڅخه رارسیدلي خبرونه وایي چي په دي نژدي ورځوکي دسختوبارانونو اوسیلابونوله امله ٤٠ کورونه ویجاړاو ۳۰ نوروته سخت تاوانونه رسیدلي دي .

خبرځاي لیکي چي نوموړي سیلابونه دکابل دښاردعاشقان وعارفان ، چقورک، اوبالاکوټ په سیمو کي راغلي اوخلکوته ئي درانده تاوانونه اړولي دي دتولو رسیدلو تاوانونو باب تراوسه کوم ربوټ ندي ترلاسه شوي .

آغاي رفسنجاني رئیس جمهور ایران درخطبه هاي نمازجمعه :

اگرمابه رفتن دربوسنیا نفوذ پیدامیکنیم ،چرا شمادرقلمروصومالیا نفوذ پیدانکردید؟

حجة الاسلام والمسلمین آغاي رفسنجاني رئیس جمهورجمهوري اسلامي ایران درخطبه هاي نمازجمعه گذشته درتهران درمورد مسئله اعزام نیروي ده هزارنفري ایراني به کشورجنگ زده بوسنیا که چندي قبل دراجلاس وزراي خارجه دول اسلامي دراسلام آباد روي آن توافق صورت گرفت گفتند : مامیخواستیم یك لشکرده هزارنفري مجهزرابه بوسنیا اعزام نمایيم ولي امریکاوهمتایان غربي اش درین کارمخالفت کردند، آغاي رفسنجاني افزودند : آنهایيکه به عنوان نیروي حافظ صلح دربوسنیارفته اند، درحقیقت حامي ومددگارصرب هااند. امریکاوغرب مي گویند: اگرایراني هابه بوسنیابروند درآنجانفوذ پیدامیکنند. اگرمابه رفتن دربوسنیا نفوذپیداکنیم ،چراشمادرحالیکه درقلمرو صومالیاهستیدنفوذپیدانکردید.

آغاي رئیس جمهورافزودند : مردم صومالیا درروزاول تاساحل دربابه استقبال شان آمدند، ولي امروزازطرف آنهاباتفنگ وچوب وسنگ استقبال مي شوید .

ایشان افزودند :امریکایي ها فعلاً درصومالیابه رسوایي روبرواند .

لبناني گوریلایانو دلبنان په سرحدکي په اسرائیلي پوځیانو دتوپونو ډزي پیل کړي

بیروت - دزمري ۲ مه :

په لبنان کي گریلایانو داسرائیلوځوابه اشغال شوي سرحدي سیمه کي پراسرائیلي پوځیانو اودهغوي پرمتحد دملیشویاندي دتوپونو داسي سختي ډزي پیل کړي دي چي پدي ځومیاشتوکي ئي ساري نه وولیدل شوي .

دایران طرفدارحزب الله په داسي حال کي دملیشوپرمورچو باندي حملي وکړي گریلاتوئي پرڅورویوستویاندي حملي کولي دغوگریلایانو دبیرته تګ نه مخکي لړترلږه یوه پوځي پوسته ونیوله په دغوجنګونوکي پراسرائیلي عسکروژل شوي اودوه کسه نوردااسرائیلو متعهدملیشیان ټپیان شوي دي .

دنایجریاستري محکمي دپوځي حکومت دفیصلي دعوه ردکړه

لاګوس - دزمري - ۲ :

دنایجریا ستري محکمي په لیګاګ کي دپوځي حکومت دهغي فیصلي په مقابل کي دعوه ردکړي ده چي دهغي په اساس ئي تیره میاشت دجمهوري ریاست انتخابات فسخ کړل .

دغي محکمي حکم وکړ چي ددغي قضیي دتعقیبولو صلاحیت نلري دغه دعوه سوشل دیموکرات ګوند چي فکرکیږي دجون ددولسمي دجمهوري ریاست انتخابات ئي وګټل ترتیب کړي وه .

جمهوررئیس ابراهیم بابانګیداوغه رایګري ځکه فسخ کړه چي وېل ئي په هغي کي ډیره زیاته ټګي شوي ده .

ده وویل داګست دمیاشتي په ۱٤ مه به نوي انتخابات وشي سوشل دیموکرات ګوند په نویوانتخاباتوکي دبرخي اخستلوسره مقاطعه کړي .

دهیوادصدراعظم ورورحکمتیاردعدلیي دوزارت له سرپرست سره وکتل

چارآسیاب - دزمري ۲ مه :

دهیواد صدراعظم ورورحکمتیاردتیري پنجشنبي په ورځ ترغرمي وروسته دعدل وزارت دمعین او سرپرست محترم مولوي عبدالرحیم "عظیمي" سره دنوموړي وزارت دمشکلاتودځرنګوالي په هکله خبري اتري وکړي .

دپیام آزادي خبریال خبراکوي ددي لیدني په ترڅ کي چي دعظمي صدارت په موقت دفترکي ترسره شوه دهیواد دعدالتي نظام دفعالیتونو دلامنظمولو اوداسلامي شریعت په چوکاټ کي دعدالتي قوانینودمؤثرتوب په هکله خبري اتري وشوي .

په ربوټ کي ویل شوي چي محترم مولوي عبدالرحیم عظیمي دهیواد صدراعظم ته دخپلي هرډول همکاري په باب ډاډورکړ .

سقوط یك طیاره درچین ۱۱۳ کشته بجاگذاشت

پیکنګ - ۲ اسد :

منابع خبري جهان گزارش میدهدکه سقوط یك طیاره درشمال چین ۱۱۳ کشته بجاگذاشت .

طبق گزارش طیاره مذکورکه حامل ۱۰۸سواريْ و٥ عمله پروازبه روزجمعه درشمال چین سقوط کرد وتمامي ۱۱۳ عمله آن به قتل رسیدند .

گفته شده است که طیاره ازشمال چین به صوب پیکنګ پایتخت آنکشوردرپروازبود .

شوراي امنیت سازمان ملل خواستارقطع عاجل بمباران سرایو توسط صرب ها شد

شوراي امنیت سازمان ملل متحد خواستارقطع فوري بمباران سرایوتوسط صرب هاي بوسنیاشده است .

شوراي امنیت هم چنین گفت: صرب هاي بوسنیانبایددرجریان تأمین آب،برق وارسال کمك هاي انساني درین شهراخلال نمایند.

هرچندبیانیه شوراي امنیت به اقدام عملي دراین مورد اشاره نکرده. اماخاطرنشان ساخت که کلیه راه هاي موجودبراي پایان دادن به این مشکل راتحت نظرخواهدداشت .

درهمین حال گفتگوهاي صلح درمورد بوسنیاکه قراربودبه روزجمعه درژنف آغازگردد، تاامروزیکشنبه به تعویق افتاد .

مقامات بوسنیامیگویند : تلقهادرصورتي به ژنف مي روندکه حملات صرب ها درسه منطقه سرایو، گراژده وبیلکومتوقف گردد .

مقاله

پرکابل دیوه بل یرغل هلي ځلي په مجاهدانه نوبنت وتمول شوي

زمور داسلامي انقلاب دتهدید اومختیوي لپاره دوه ډوله فعالیتونه پکار اچول شوي ، په بهرني ډګر امریکا دګردلویدیځ په سردمداري تردي حده په مورچل کي ده ، چي دجهاد پرضد له پروپاګندنه نیولي بیا داشخاصو ترپیرلو پوري خپله یوه ثانیه هم نه ضایع کوي ، اوداهلي ځلي ګالي ،چي په هره بیه باید ددوي په اصطلاح په افغانستان کي دبنسټ پالو حکومت ناکام شي . دهمدي لپاره یي دمنځني اسیا په هیوادونو کي بالواسطه مداخله وکړه ،اوپه تاجکستان کي یي بوځل بیا په دیر نامشروع ډول کمونیستان پرواکمني وروخیژول ،اودهمدغي کمونیستانو دزورزیاتي لامله په لکونو تاجك هجرت ته اړشول ، خو نړیوال کفردمسلمانانو پدي تعذیب هم بسیانه شو اوورسره جوخت دکمونیستانو دساتني اوتقویي لپاره سوروځ تاجکستان ته راوغوښتل شو، نواوس چي تاجك مسلمان ولس دخپلي طبیعي اودیني اړتیا له مخي وسلي ته لاس کړي ،اوجهادیي پیل کړیدي ، دروس ماتي خوړلي رژیم دخپل پخواني انتقام اوغچ داخیستو لپاره دافغانستان اسلامي حکومت اودخاوري تمامیت تهدیدوي .

اودافغانستان په داخل کي تربماري وروسته ډول ډول ګواښونه کوي . خوډسیاسي کتونکو په عقیده دا کار دروس دحکومت خپله اراده نده ،بلکي دامریکا په دستور غواړي ، دافغانستان داسلامي انقلاب دتحقق په مخ کي اغزي وشیندي ،پخپله دروس پارلمان پدي شاهدي ورکوي ، چي یلتسن دامریکا ګوډاګي دي ، او دروس دملت په وړاندي هیڅ اعتبارنلري، باتي شوه دروس دملت خبره ، نویدي باب خونړیوال دروس د ولس له هیلو اواتعکاساتو نه لا دافغانستان دجنګ پروخت خبرو ،نواوس به څه ډول بیا دیته غاړه کیږدي ،چي روس دي بوځل بیا دافغانستان غوندي په یوه بي هدفه اوبي نتیجي جګړي کي راګیر شي . په هرصورت هرڅوك پوهیږي ، چي روس تاجکستان ته ګټي ،بلکي ددي پردي لاندي دامریکا په

۳ مخ

سخن روز

جنګ تیموري شکست آهنګ تیموري بجاست

ناګار

څه خت چي سربښدونکومجاهدینو په لاس سوروپوځ مات اوورپسي دسري امپراتوري شیرازه ګډه وډه شوه،نوبه منځني آسیاکي له یوي پیري راهیسي خاموشه شوي اسلام یوځلي بیا دوبښتابه جتکي وخوري ،او داسلام داحیا ورانګي دومره په چټکي خوري شوي ،چي صلیبي لویدیځ سره داویره پیداشوه ،چي منځني آسیا دکمونیزم پرځاي داسلام مرکزنشي ،پدي ترځ کي تاجکستان اواذربایجان دوه هیوادونه وو، چي دزروکمونیستانو حکومتونه یي راچپه کړي وو.اوپه نوروهیوادونو کي بیا په لړتوپیردالري روانه وه ، خوددي ترڅنګ دنړیوال کفرلپاره دهرارخیزجلیتج په توګه افغاني مجاهدین هغه تجربه شوي لحواك ؤ، چي له منځني آسیا سره یي ګډه پوله لرله،نوله امریکاسره ددي خطراحساس حتمي و چي خامخا به دغه اسلامي انقلاب له آموتهاوري ،اودمنځني آسیا ګوټ ،ګوټ به روښانوي .په همدي توګه پرایران سربیره پدغي اوږدي لیکي پاکستان ، بنګله دیش اوکشمیر ټولي هغه سیمي وي، چي دافغان جهاد له بریالیتوب وروسته پکي اسلامي تحریکونه په پیاوړتیاوو.اودنړي دیوقطبه کیدلو دچلښتج لپاره له لویدیځ سره دخښیځ دسیالي او همبستګي احتمال که په نورو برخو کي څه زماني واټن لاره ،نوپرسیاسي پوله خو سمدستي سره دښکریه ښکرکیدو په حال کي وو. نولویدیځ ښکیلاك دافغان جهاد دکلابندي لپاره ترټولو ړومبي دسیمي دشرایطو په اختناق لاس پوري کړ ، پخپله په افغانستان کي داسلامي خوځښت ترمشرتابه لاندي داسلامي حکومت هلي ځلي ددي داوړاکوي ،چي انشا ءالله دیرژربه په حالاتو قابو ومومي ، اوداسلامي انقلاب اهداف به ترلاسه کړي. خودسیمي په نوروهیوادونوکي دامریکا په لاسوهنه بیا حالات کټ مټ متغیراوبدل ښکاري ، دپاکستان جمهوررئیس اوصدراعظم استعفي ته اړشول ، په اذربایجان کي حکومت رانسکور اوواړه کمونستان بیرته واکمني ته ورسول شول. خو په تاجکستان کي وضعیت بل دول دي. دسري امپراتوري له ړنګیدو وروسته په تاجکستان کي دقدرت واګي دیموکراتانو اواسلامي ګوندونوپخپل لاس کي واخیستي . په اصل کي دغه حکومت دانتخاباتو او د تاجك ولس دراېو په اکثریت رامنځ ته شو، خو لویدیځ دافغاني مجاهدینو په خواکي دداسي یوه ملي اواسلامي حکومت منلو ته تیار نه ؤ، نودروسي پوځ په مرسته چي له پخوا نه په تاجکستان کي ځاي پرځاي و ، دیوي کودتاپه ترځ کي دتاجکستان قانوني حکومت رانسکوراوکمونیستان یوځل بیا دقدرت په ګدي کښېنول شول ،خو له دي سره جوخت کمونستانو دخپلي زړي پالیسي پربنسټ دخپلو مخالفینو په وژلو ، شکنجي ، اوزنداني کولو لاس پوري کړ .دکمونیستانو وحشت تاجك ولس هجرت او جهاد ته اړکر.په لکونو تاجك مهاجرین افغانستان ته راواوښتل ،اویه زرګونو نورو په وسله وال جهاد لاس پوري کړ.

نوځرنګه چي هجرت اوجهاد دواړه تجربه شوي اصول اوپدي لنډوخت کي پري تش لاسوافغانانو یوه سترځواك ته شرمیدلي ماتي ورکړه ،نوامریکاله دغي تشوش نه دحفظ ماتقدم په دول یوځل بیا روس تشویق کړ، چي دافغانستان غوندي په یوي بي معني اوبي نتیجي جګړي کي ددوهم ځل لپاره ښکیل شي . دروس مشریلتسن چي دروس لپاره یومتنازع شخصیت اوحتي خپل پارلمان هم ورسره چندان توافق نه لري ،تاجکستان ته یي دنورو ډیرو روسي عسکروپه ورلیږلو سربیره داسي اعلان هم وکړ چي داډول پیسي دروس ملي امنیت ته خطردي . اوباید ورسره مقابله وشي .دروس عاقبت نه سنجوونکي مشر یلتسن پدي خامخا پوهیږي ،چي داډول بي مسوولیته کارونو کمونیزم دتاریخ هدیري ته وسپاره ،خو دداډول سیاسي مشرانو هم څه ستونزي وي، نوځکه یي دروس ملي منافع له خپلوشخصي ګټو نه قربان کړل ،او دامریکا په قومانده یي دغي بي شرمي ته پتون وواهه.امریکا زیار ګالي ، دماتي خوړلي سره پوځ پوسیله منځني آسیا دافغان جهاد اواسلامي انقلاب له صدور نه بچ وساتي. اوپه مقابل کي یي دخپلو داخلي مخالفینو په وړاندي روس دحکومت دتش په نامه اصلاحاتو ملاتړوکړي،چي نورڅه نه بلکي دیلتسن " سیاسي بچاو " ګڼل کیږي .په تاجکستان کي دتاجکو مجاهدینو په لاس د روسي عسکرو انقلابي اعدام کومه داسي پیښه نده ،چي دروس ملت یي په قهرکړي ،ځکه روسان دیوه تریخ حقیقت په توګه دافغانستان دجنګ تجربه نه هیروي .بلکي دادروسي زمامدارانو پي بصیرتي اوبي مسؤولیتي ده ،چي لاتراوسه یي له داسي پیښو نه لمن ونه نغاړلي شوه،چي دروس تاریخ اوموجودنسل پري ګواه دي که دادلویدیځ قوماندو نه وي نوځه ده،چي روس دتاجکستان دپیښو پره پرافغانانو اوبیا دافغانستان پر اسلامي تحریك وراچوي .حال داچي دافغانستان داسلامي تحریك مشردحکومت مشر هم دي ، اوپخپلي سیاسي تګلاري کي دګاونډیو هیوادونو په کورنیو چارو کي دلاس نه وهني اصول په ښه کړیدي .همداراز دمسؤولینو له خوا داوضاحت هم شوي ،چي موږتراوسه پخپلو ډیرو ابتدایي وسایلو دتاجکو ورونو میزباني کوو،اوتردي پورته نورڅه ندي شوي ، ربښتیا هم چي دوران ، ویجاړ افغانستان حالت اوداسلامي حکومت ستونزو ته وکتل شي ،نوهیڅوك به داګومان ونه کړي ، چي اسلامي تحریك له ځ... پرته بل څه ته پاملرنه کولي شي . پرحزب اسلامي افغانستان داډول الزامات اوبیا په ډیره ناځوانمردانه توګه دتخار بمبارددي شاهد ي ورکوي . چي نړیوال کفراوګوډاګیان یي داسلامي جهاد په وړاندي دخپل بریالیتوب

۳مخ

حوادث اخیر پاکستان ونظریات معین "قریشي" درباره انتخابات

ذبیح الله "قریشي"

تقریباً ازشش ماه به این طرف بوده که جناب غلام اسحاق خان رئیس جمهور ومحترم نوازشریف نخست وزیر پاکستان بمنظور غلبه براموركشور، باهم درگیر بوده اند ،سرانجام هردو درحالي ازكرسي اقتدار كنار رفتند كه هريكي مدعي پیروزي بررقیب خویش در میدان سیاست مي باشند.

آقاي نوازشریف آرزوداشت تامنحیث نخست وزیر مقتدر به امور حكومت رسیدگي داشته باشد . درحالیكه غلام اسحاق خان بااستفاده ازهشتمین ترمیم قانون اساسي پاكستان كه درزمان شهید ضیاالحق تصویب گردیده است، حكومت رابه پیروي ازنظر یات خود وامیداشت.

هشتمین ترمیم قانون اساسي پاكستان بمثابه ساطورهمیشه آماده برفرق مجلس ملي وحكومت پاكستان تلقي مي گردد. این ترمیم كه نظام پاكستان راازسیستم پارلماني خارج ودرمیان نظامهاي ریاستي وپارلماني درآورده ، حكومت وپارلمان رابراي همیش دستنگروخادم رئیس دولت قرار داده است.

مرحوم شهید جنرال ضیاالحق بااستفاده ازین ترمیم . حكومت آقاي محمدخان راازكاربركناركرد. وهكذا جناب غلام اسحاق خان به اساس دستورفوق مجلس ملي راكه درنتیجه انتخابات سال ۱۹۸۸ م رو بكار آمده بود ،منحل وحكومت محترمه بي نظیر بوتو رهبر حزب مردم پاكستان راازكاربازداشت.

اینسال ۱۹۹۰ م بود كه مجلس منحل شد ودرنتیجه انتخابات آقاي نوازشریف امین قلمدان ریاست حكومت پسندیده شد.

اماخانم بي نظیر بوتو علم مبارزه راعلیه هشتمین ترمیم قانون اساسي بلند كرد.

وبعدها به اثر كشیده گي كه بین غلام اسحاق خان ونوازشریف بوجودآمد ، آقاي نوازشریف به این حركت كه اصل جمهوریت (پارلمان) رازیرسوال میگیرد، باخانم بوتوپیوست.

غلام اسحاق خان كه ازكاركشته ترین سیاستدانان وباتجربه ترین فرداداري پاكستان بحساب مي آید، این حركت رابمثابه سرنگوني خویش ازكرسي اقتدار تلقي كرده برضد حكومت آقاي نوازشریف بیرون آمد وهر قدر تلاش بخرج داد تا تحریك عدم اعتماد را درپارلمان علیه نوازشریف به راه به اندازد ، موفق نگردید.

همان بودكه آقاي وزیر اعظم درسخنانش خطاب بمردم پاكستان ازطریق رادیو وتلویزیون خدماتش رابرشمرده حریفان رازیربارانتقاد گرفت وگفت كه ازسمتش استعفي نخواهدداد زیرا پارلمان بااوست وحكومتش پایگاه مردمي دارد.

اماازانجاییكه بعضي ازسیاستدانان پاكستان غلام اسحاق خان راشخصیت ضدي تعریف مي كنند، دراخیر همان شب انحلال حكومت ومجلس رااعلان نموده حكومت مؤقتي راازمخالفین آقاي نوازشریف به ریاست میربلخ شیرمزاري تشكیل داد.

مگر از ابتدا روش حكومت آقاي میربلخ شیرمزاري مشخص بودكه چه راهي راطي مینماید. باپالیسي یي كه حكومت مؤقت در پیش گر فته بو دبه هیچ قیمت ممكن نبود تاانتخابات منصفانه وبیطرفانه به راه بیفتد كه اتخاذ چنین پالیسي یي اسباب نگراني صاحبان فكر را درپاكستان بوجود آورده بود. عجب تراینكه حكومت امریكاازاین روش غیر قانوني مبني بربركناري حكومت آقاي نوازشریف حمایت نموده آنرا عمل قانوني ودیموكراتیك خواند. كه این مساله به ذات خود سوالي را پیش آورده كه درحال حاضر جواب آن مصلحت دیده نمي شود.

به اساس درخواست آقاي نوازشریف ورئیس پارلمان ،محكمه علیاي پاكستان بركاركرده گي یك ماه ویك روزه حكومت مزاري خط بطلان كشیده وحكم رئیس جمهور مبني برانحلال مجلس وبركناري حكومت راغیر قانوني وفرمان برحالي حكومت وپارلمان راصادركرد.

بااصدار فیصله محكمه مبني برقانوني بودن حكومت آقاي نوازشریف ، اخلاقاً لازم بود تاجناب رئیس جمهور ازسمت خویش استعفامي داد ولي علاوه ازانكه چنین نشد ، ازحكومت هاي ایالتي پنجاب وسرحد به حیث سپر دربرابر نوازشریف كارگرفت.

خانم بي نظیر بوتو خلاف رأي قبلي خویش جانب رئیس جمهور را گرفت وحكومت نوازشریف رابه مظاهرات وراهپیمایي هاي طولاني تهدید كرد.

گرچه آقاي نوازشریف كوشیدتامشكلات راازطریق مذاكره باخانم بي نظیر بوتو ورئیس جمهور حل نماید ، تلاش وي عملاً نتیجه نبخشید.

بمنظورپایان بخشیدن بحران كشور جناب قاضي حسین احمد رهبر جماعت اسلامي پاكستان ومولانا سمیع الحق و... داخل اقدام شدند تاكشیدگي میان نوازشریف وغلام اسحاق خان را پایان بخشندو حكومت روال اصلي اش بازگیرد ،متاسفانه تلاش شان به بار نه نشست.

درین گیرودار ذهنیت عامه به نفع نوازشریف به چرخ آمده وحتي بعضي ازافراد حزب مردم پاكستان پاسدار اصولیت خود را معرفي نموده به پشتیباني ازموقف آقاي نوازشریف به پاشدند كه این مساله رایكي ازموفقیت هاي آقاي نوازشریف درعرصه كارش میشود دانست.

با بوجود آمدن بحران سیاسي درپاكستان اكثراً به این عقیده بودند كه شاید ارتش داخل اقدام شده اقتدار رابستاند . زیرا تاریخ گذشته پاكستان این نظر را نیز قوت مي بخشد.

هرزماني كه بحران سیاسي پاكستان راتهدید نموده ،فوراً ارتش داخل اقدام گردیده وقدرت راازمردان سیاست گرفته است.

برعكس این بار ارتش باوجود تقاضاي بعضي ازسیاستدانان پاكستان، دست به چنین اقدامي نزد . ولیكن درین راستا پایه میانجیگري نهاده ، غلام اسحاق خان ونوازشریف را به این نكته راضي ساخت تاهر دو ازسمت شان استعفاداده حكومت موقت بیطرف زمام امور رابدست گرفته ،انتخابات منصفانه وبیطرفانه را سرپرستي نماید.

همان بودكه اولاً آقاي نوازشریف ازوظیفه اش استعفاداده درسخنانش گفت ... گرچه قانوناً من صدراعظم هستم و مراهیچكسي به استعفا وادار نموده نمي تواند. من بدل بسیارآرمان داشتم تابه مردمم خدمت نمایم مرانگذاشتند ، نمي خواهم تا این كرسي رابراي خود داشته باشم. ازاینكه بااین شرایط بمردم خدمت كرده نمي توانم ازسمت خود استعفامي دهم .

وقتیكه انسان اوضاع جاري پاكستان رابه تحلیل میگیرد تااین جا به دو مسأله بزرگ برمي خورد : یكي اصدارحكم محكمه علیاي پاكستان ودیگر استعفاي صدراعظم آنكشور كه باید هردو موضوع دردل تاریخ به خط درشت براي آنانیكه تشنه قدرت اند وباشیفته گان خدمت درج گردد.

بهرصورت حكومت آقاي نوازشریف به پایان رسید وصدراسحاق خان ازكرسي پایین آمد. وحكومت بیطرف وغیر دخیل به سیاست توسط معین الدین احمدقریشي اقتصاددان پاكستان امااز یك فامیل سیاستدان وروحاني براي نظارت برانتخابات ورسیدگي برامور حكومت تشكیل گردید. ،هنوز روشن نیست كه حكومت مؤقت درین راستا چه خواهدكرد.

مگرصدراعظم موقت پاكستان آقاي قریشي كه مدت بیش از سي سال رادر امریكا سپري نموده دردیدارش بامحترم وسیم سجاد رئیس جمهور مؤقت پاكستان تصمیم گرفت تا درمدت ۸۰ روز اقتدار خود فیصله یي برهیچ موضوع بنیادي ننماید. ایشان اساس كارخویش راتاكید بربرگذاري انتخابات آزاد وعادلانه نمود .باوجودآنكه خانم بوتو ادعامي نماید كه آقاي قریشي ازطرف وي بحیث وزیراعظم موقت پیشنهادشد وآقاي نوازشریف ، سعید شیخ را به این سمت پیشنهادنموده بود ولي نخست وزیرمؤقت آقاي قریشي كه اقتصاددان معروف بوده ومدت طویلي ریاست بانك رابه عهده داشت ،پالیسي اقتصادي وترقیاتي حكومت نوازشریف راستوده ووعده ادامه آنرا داده است. كه این امر بذات خود دلیل شكست مخالفین حكومت نوازشریف راارایه میدارد.

آقاي قریشي باوسیم سجاد درمورد تشكیل یك كابینه وفاقي مختصر كه ازآنها اخذ مشوره نماید ، صحبت نموده است. وي اظهار نظر نموده تاكابینه اش از افراد لایق ، بااخلاق وبیطرف مشتمل بوده ودرانتخابات حصه نگیرند وعین دید را درمورد وزراي صوبه هاي پاكستان راارایه داشته‌است.

این نظر تاجایي مي تواند‌اخلاص وصداقت آقاي قریشي را درمورد برگذاري انتخابات آزاد وبیطرف تضمین كند.

مگر براي پیروزي انتخابات آزاد وبیطرف همكاري پنج دسته با هم ضروري پنداشته مي شود .

۱- حكومت مؤقت . ۲- ارتش پاكستان .

۳- احزاب سیاسي ٤- اداره انتخابات.

٥- مردم كه كاندید رابرمي گزینند.

هرگاه یكي ازاین پنج فرقه درین امر خطیر ومهم همكاري اصولي وقانوني ننمایندو ممكن نیست

ص۳

حکومت اومسؤلیتونه یي

محمدخلیل

دجلال آباد له معاهدي سره سم په کابل کي حکومت جوړشو محترم حکمتیار اوکابینې یې دلوړې مراسم اداکړل.

راډیو ګانو اواخبارونو پدي باب معلومات خپاره کړل اوخلکو دااحساس وکړ چي لد ینه پس به دافغانستان دبیاودانولو اودمظلوم ولس دښیګڼو په خاطر جدي اقدامات وکړي شي ، خو له بده مرغه لدي نه پرته چي کله کله دکابل له راډیو نه دحکمتیار نوم آوریدلي شي او په ځینو وختونوکي دوزیرانو دغونډو په باب یوڅه ویلي شي دمهمو اوښتیزو مسئلو دحل په باب هیڅ نه ویل کیږي ، دخلکو آرزو اوهیله خوداوه چي جدي اومهم مسایل ختم کړاي شي. هغه رکاوټونه اوخنډونه چي دیوکال راهیسي دمجاهدنیو دیووالي اواتفاق په وړاندي حایل شویدي لري کړي شي ترڅو دراتلوونکي له پاره دیوخوشحال آزاد اسلامي افغانستان قیام یقیني وګرځي چي دجنګ اوبي باوري فضا وروروالي اوسوله ونیسي . پدي کي هیڅ شك نشته چي دافغانستان دمظلوم اوکړیدلي ولس لوي آرمان دادي چي ددوي له هیلي سره سم په افغانستان کي یومستحکم خودمختاراوپه خپلو کارونوکي مسلط حکومت قائم شي.

چي په صحیح معني دخلکو خدمت وکړاي شي ، په ټول هیوادکي سوله اوامنیت تامین کړي ، دمحلي اوځانځاني حکومتونو او واکداریو پرځاي دمرکزي حکومت تسلط اوواکداري حاکمه شي ترڅو ګردافغانستان دیوه نظم اودیو قانون ترسیوري لاندي ژوند وکړي خو ډیر افسوس چي تراوسه پوري پدي باب په زړه پوري توجه نده شوي.

دولت لګیا دي په غیر فطري اوغیر طبیعي لاري پرمختګ کول غواړي چي نتیجه یي دبهتري پرځاي بدتري ده ، دهیواد جمهوررئیس ته پکاردي چي پدي باب دتشوخیرو اوبیانیو پرځاي دمسئلي حقیقت ته فکر وکړي او دمشکل دحل له پاره بنیادي لاره ونیسي ، دهیواد له صدراعظم محترم حکمتیار اودکابینې له غړو سره دي صلاح اومشوره وکړي ا وپدي باب دهغوي پیشنهادونو اومشورو ته اهمیت وکړي نه داچي څه یي زړه وغواړي ویکړي اوهغوي ته هیڅ پروا ونه کړي. دایوښکاره حقیقت دي چي په یولاس ټك نه خیژي اونه دهیواد چاري یواځي جمهوررئیس پخپله خوښه سرته رسولي نشي، دصدراعظم مشوره اورول پدي باب دډیر زیات اهمیت وړدي ، ترڅو پوري چي دصدراعظم اوکابینې په مشوره کارونکړاي شي یوګام هم پرمختګ نشي کیداي ، چي ښکاره مثال یي دپاکستان حکومت دي ، له کله نه چي دجمهوررئیس غلام اسحاق خان اوصدراعظم نوازشریف ترمنځ دبي اعتمادي فضا پیداشوه اوهریوځانله ځانله لاره ونیوله نوپاکستان دیومضبوط اومستحکم حکومت نه محروم شو.

چي بالاخره ځومیاشتو له سیاسي کشمکشو نو نه وروسته جمهوررئیس اوصدراعظم دواړه استعفي ورکولو ته مجبورشول ترڅوپاکستان ددوي دبي اتفاقي داوربه لمبو کي ونه سوځیږي . هغوي دپاکستان مستقبل اوراتلوونکي دهغه هیواد اوسیدو نکوته وسپاره ، ترڅوله عمومي انتخاباتو نه وروسته خپل مستقبل پخپله وټاکي ، لدي نه هیڅوك سترګي نشي پټولي چي دهرهیواد اوسیدونکي له هرچانه زیات حق لري چي پخپله خوښه یوڅوك دانتخاباتو له لاري غوره کړي او غوره لاره یي هم همداده چي دااختیار اوواك باید دهیواد اوسیدونکو ته پرته دڅه حیل اوحجت نه ورکړي شي.

هرهغه حکومت چي دخلکو له خوښي نه پرته جوړشي اویه زوره خپل ځان مسلط کاندي هغه په حقیقت کي یو ناکاره اوکمزوري حکومت وي چي ددنیا په هیڅ ګوټ کي بي کامیابي ندي ترلاسه کړي اوخلك ترینه بي زاره وي، دافغانستان په شان هیواد چي دآزادي اوخپلواکي دګټلو په خاطر یي بي مثاله قرباني ورکړیدي اومحکومو ولسونو له پاره دلاري دمشال حیثیت یي خپل کړیدي دخپلي خوښي دحکومت جوړولو اودخپلو راېو داستعمالولو حق ورته له هرچانه زیات حاصل دي ، پکاردي چي جهادي مشران پدوي باندي له انتخاباتو نه پرته دحکومت کولو ټولي لاري ګودري پرښږدي اوبواځیني مقبوله لاره چي آزادانتخابات دي خپل کړي، دوي باید له هرڅه نه مخکي دعامو انتخاباتو دصحیح انعقاد له پاره خپل ټول استعداد وقف کړي اوهغه ټول خنډونه اومشکلات چي آزاد انتخابات تهدیدوي ختم کړي ،دفاعي کمبیون له ټول هیواد نه دغتو اولویو وسلو دټولو لواو دمتفرق پوځ پرځاي دیو متحد پوځ دجوړولو له پاره جدي اقدام وکړي ځکه چي لدي نه پرته نه په افغانستان کي استحکام راتلي شي اونه مرکزي حکومت جوړیداي شي ، دیوځ منظم کول اوبیا هغه دیو نظم تابع کول له هرڅه نه مهم کاردي متفرق اومتشتت پوځ دهیواد یووالي اومرکزي حکومت دجوړیدو په وړاندي یولوي خنډدي ، پدي باب دهیواد صدراعظم محترم حکمتیار صاحب پخپلي سیاسي تګلاري کي په زړه پوري مادي بیاني کړیدي که چیري پدي باندي پرته له څه ځنډ نه عمل وکړاي شي اودهیواد جمهوررئیس ورسره له اخلاص نه کمك وکړي نو انشا ءالله دامشکل به ډیر ژر ختم شي . دافغانستان کړیدلي اوربړیدلي ولس یواځي پدي نه خوشحالیږي چي دهیواد جمهوررئیس اوصدراعظم دي یواځي بیانیي اومرکي خپري کړي اوولس دي ددوي له خبرونه لطف واخلي بلکي دافغانستان دکړیدلي ولس لوي آرمان اوهیله داده چي دزړه له کومي داسلامي حکومت دقیام اودافغانستان دخوشحالي اوترقي له پاره عملاً کار وکړي شي اوولس پخپلو سترګو دپرمختګ عملي نموني وګوري ، ښکاره خبره ده چي مشکلات اومسایل هیڅ‌چا په تشو خبرو نه دي حل کړي بلکي دعملي ګام اوچتوالو ته ضرورت دي.

نن سبا افغانستان له خبرو نه زیات عمل ته ضرورت لري ، وګړي دهمدي په هیله دي چي عملي ګامونه دي اوچت کړاي شي ، دځوارلسو میاشتو راهیسي دافغانستان مسلمان اوکړیدلي ولس دناظراوڅارونکي وظیفه اداکوي او دهر مشر خبري اوعمل دواړه تلي دهرچا صداقت اودرواغوته متوجه دي چي څوك دي مظلوم ملت سره دزړه له کومي مینه لري اوڅوك ددي ملت سره غدر اوټګي کوي. دځوارلسو میاشتو په اوږدو کي که چا په هرنامه دمکراوفریب له لاري وګړو ته دوکه ورکړي وي وروکړي به وي خو نور دغه مظلوم ولس ته دوکه نشي ورکولي اونه خپله خودغرضه خیره په پرده کي پټولي شي .

پکار دي چي نور دمکراوفریب له ناروا لاري په خلکو دمسلط کیدو ټولي لاري ګودري بندي کړي او دزړه له کومي دعمومي انتخاباتو دپیل کولو په خاطر دټولو هغو خنډونولري کولو لپاره عملي اوجدي کارونه سرته ورسوي چي تراوسه پوري دهیواد دامنیت ،استحکام او مرکزي حکومت موثریت یي له خطرسره مخامخ کړیدي.

دحضرت عبدالرحمن بن عوف په ...

اومحصلین ئي خپلومسئولیتونوته متوجه کړل .

دغونډي په پاي کي ورورمحمداسلام فکري دغونډي دنطاق او ورورعنایت الله دهغه دمرستیال په توګه وټاکل شول . غونډه دبرخوالوپه دعا پاي ته ورسیده

په تاجکستان کي دمبارزو مسلمانانودپاڅون پرضدناوړه هڅي

شمس الحق "شمس"

دوخت روسي ظالمواوتجاوزگرو حاکمانو دخپلي امپراتوري دپراختیا اودسیمي پرمظلوماوبیوزلو هیوادونو باندي دواکمني پیداکولو په خاطر ډیر آزاداوکم وسه هیوادونه تروحشیانه برید لاندي نیولي اودخپل نامقدس اوغیر انساني سلوك دسرته رسیدلو وروسته یي خپلي خیټي ته کوز اودخپلي امپراتوري جزیي گرځولي دي . ددغو بیوزلو هیوادونو له ډلي څخه یو هم نننې تاجکستان دي چي په افغانستان کي دتجاوز گرو روسانو دبشپړي ماتي وروسته یي دروسي وحشیانه امپراتوري له خیټي څخه دازاد اوخپلواکه ژوند دتیرولو په هڅو کي بریالیتوب ترلاسه کړاو مبارزو مسلمانو اوسیدونکو یکي دخپل حقیقي ژوند (داسلامي قوانینو په رڼاکي) دتیرولو هڅي شروع کړي اودپخواني کمونست رژیم دقوانینو دلغو کیدو اوپرځاي یې دمحمدي غراشریعت دقوانینو نافذولو ته بېږي راووهلي .

کله چي روسانو په ۱۳۵۷ کال کي په افغانستان کي دیوي کمونستي کودتا په منځته راتلو سره داسوچ اوخیال رښتیني گاڼه چي گواکي افغانستان به هم دتاجکستان ،ازبکستان ، آذربایجان ، قرغزستان او... هیوادونو په شان دځان په شان کړو اودخپلي امپراتوري حدود به ورو ورو ترگرمواوبو پوري ورسوو ترڅو دخپلو شوموا هدافو دپوره کیدو هیله یي دبحر له لاري هم تامین شي . خو له نیکه مرغه چي دافغان مجاهدینوله لاسه پدي شوم هدف کي ناکام ، رسوا اوپخپله ټوټي ټوټي شو. تجاوز گرو روسانو په افغانستان کي دخپلو وحشي پوځونو په ذریعه ټوله موده د سره لدي چي زموږپرمؤمن ولس یي له هیڅ ډول وحشت ، ظلم او تجاوز کمي ندي کړي ، خو دخداي (ج) په مرسته اودافغان مجاهدولس په میړاني اوسربښندني سره په یوه پلان کي هم بریالي نشول اونه یي دپرمختگ څه نښي نښاني ترسترگو شوي ، وروسته له زرهاو مړو او ورکو پوځیانو څخه په ۱۹۸۸ م کال کي دحیرتان بندرله لاري په سرټیټي اوشرمنده حالت سره هغه ماتي نه خوړونکي پوځ چي په دروغو سره یي په نړي کي شهرت موندلي و او خپلي خاوري په لور مخه کړه او د روسي ماتي خوړلي پوځ مشریدي خبړه اعتراف وکړ چي زموږپه افغانستان کي پوځي مداخله اولاسوهنه یوه لویه اشتباه وه.

همدادافغانستان دمجاهدولس دخداي (ج) په لارکي دجهاد آوازجگولو برکت ؤچي دروسانو له ماتي وروسته په خپله روسیه کي هم دکمونست مزخرف رژیم دله منځه تلو ، دلویي امپراتوري دټوټه ټوټه کیدو اودهغي له ظالمانه نس څخه دپنځلسو بیوزله هیوادونو دسرراجگیدو باعث شول اوخپله آزادي یي اعلان کړه چي ددغو هیوادونو له ډلي څخه یوهم تاجکستان و چي دافغانستان سره گډه پوله لري اودروسانو له اشغال نه پخوا یواسلامي هیوادؤ.

دتاجکستان دازادي اعلان اودحکومت دجوړیدو واك له څه هم دپخوانیو کمونستانو او لادینه په اختیارکي ؤچي دمبارزو مسلمانانو سره یي سخت ضدیت درلود خو داخبره دیادوني اوتقدیر وړده چي په تاجکستان کي دروسي تسلط په ټوله موده کي بیا هم مبارزمسلمانان په خپل دین ټینگ پاته شوي ؤاودخپل هیواددآزادي سره سم یي دکمونستي حکومت دله منځه وړو هڅي شروع کړي .دایوکال کیږي چي مبارزاوسربښندونکي تاجکي مسلمانان سره په جهاد اخته دي. دتاجکستان پوځي اودولتي کافرحکام پردغومسلمانانو باندي له هیڅ ډول هوایي اوځمکني تیري اوتېکوني څخه دریغ ندي کړي په ډیره بي رحمانه برغلونو سره یي په زرهاو مسلمانان شهیدان یي کوره اوگاونډي مسلمان اوفاتح افغانستان ته په هجرت مجبورکړل او مجاهدو افغانانو په ډیره مینه اوپراخه تندي هغوي په خپلو غیږوکي ونیول او دآرامه اوسوکاله ژوند تیرولو وسایل یي ،پداسي حال کي چي خپل هیواد یي هم یوه نیمه لسیزه دکمونستي وحشت په اورکي سوځیدلي اوهرڅه یي تباه شوي و ، برابرکړل.

